انجنیر سلطان جان کلیوال


۲۰۲۲/۰٤/۰۹

# غُصه (۲)

غُصه مکږه جانانه، غُصه کلي ورانوي
غُصه لوګی د زهرو، غُصه سترګې ړندوي

غُصه د زړه چنجی دی او دښمنه ده د عقل
غُصه د دوزخ لورده، مینه اورکی سوزوي

غُصه د شیطان خورده، غُصه مورده د نفرت
غُصه لکه خزان دی، سره ګلونه ریژوي

غُصه راوړي هوښیارته، بد خبرد لیونتوب
غُصه د هرعاقل نه، لیونی سم جوړوی

غُصه د غضب نښه ده، وجود کی د انسان
غُصه په بی رحمی، د زړونو لارې بیلوی

غُصی نه کلیواله، ځان ساتنه ده په
کار غُصه د مُحبت، د ونې ښانګې و چوی

دسمبر/۲۰۲۱/۲۷ تورنتو- کاناډا



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید




لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com